ro
reach out

پښتو
(简体中文)

# د نژادي او
# نښي‌لوري
# تاوتريخوالي له امله
# د اغېزمنو کسانو، د
# هغوی د خپلوانو او
# شاهدانو لپاره سلا
# مشوره


Gefördert vom
Bundesministerium für Bildung, Familie, Senioren, Frauen und Jugend
im Rahmen des Bundesprogramms
Demokratie leben!
Gefördert durch
BERLIN
Senatsverwaltung für Arbeit, Soziales, Gleichstellung, Integration, Vielfalt und Antidiskriminierung
im Rahmen von
DEMOKRATIE. VIELFALT. RESPEKT.
Das Landesprogramm gegen Rechtsextremismus, Rassismus und Antisemitismus
LANDESSTELLE FÜR GLEICHBEHANDLUNG – GEGEN DISKRIMINIERUNG


ro
reach out

## ریچ اوټ څه شی دی؟

ریچ اوټ د مسلکي سلا مشورې مرکز دی چې په برلین کې د نژادي او ښي‌لورې تاوتریخوالي د اغېزمنو کسانو، د هغوی د خپلوانو او شاهدانو لپاره خدمتونه وړاندې کوي. زموږ تخصص د نژادي پولیسې تاوتریخوالي او رېشل پروفایلینګ په برخه کې هم دی.

ریچ اوټ د نژاد پالنې ضد او بااختیارۍ (امپاورمنټ) په اړه ورکشاپونه وړاندې کوي.

ریچ اوټ په برلین کې نژادي او ښي‌لورې بریدونه ثبتوي او خپروي.

موږ له محلي شبکو، فعالانو او ائتلافونو سره نږدې همکاري کوو.

## زموږ د سلا مشورې کار

ایا تاسو په برلین کې له نژادي یا ښي‌لورې تاوتریخوالي او/یا جدي ګواښونو سره مخ شوي یاست؟ د بېلګې په توګه د افرادو، ښي‌لورې ډلو، پولیسو، ښوونځي یا د کار په ځای کې؟
**موږ تاسو ته سلا مشوره او ملاتړ درکوو.**

## موږ چا ته سلا مشوره ورکوو؟

- هغه کسان چې مستقیم اغېزمن شوي وي
- خپلوان او ملګري
- شاهدان

## موږ څنګه سلا مشوره ورکوو؟

- په اړخ نیوونکې (ملاتړ کوونکې) توګه
- وړیا
- محرم / پټه
- که وغواړئ، په بشپړه توګه په نوم پټ ډول
- په بېلابېلو ژبو

## زموږ د سلا مشورې څه برخې دي؟

- احساساتي ملاتړ
- قانوني امکانات
- د بېلګې په توګه: قضايي شکايت، د مدني دعوې شموليت، د جزايي دفاع امکانات، د وکيلانو سره اړيکه
- ملتياد بېلګې په توګه: پوليسو ته تلل، ادارو ته تلل، د محکمې په ناستو کې ګډون
- مالي ملاتړ
- د بېلګې په توګه: د محکمې لګښتونو مرسته، د تاوان ترلاسه کول، د حقوقي مرستو صندوق ته غوښتنليکونه
- نورې سلا مشورې مرکزونو ته رهنمايي
- د بېلګې په توګه: د استوګنې قانوني چارو، ارواپوهنې مشورې لپاره
- که وغواړئ، له مطبوعاتو سره اړيکه نيول

## موږ چیرې سلا مشوره ورکوو؟

- په ريچ اوټ کې په حضور ډول يا ستاسو په ځای کې
- د تليفون له لارې
- انلاين

reach out

www.reachoutberlin.de

# له موږ سره د اړیکې لاره

| | |
|---|---|
| سلا مشوره | beratung@reachoutberlin.de |
| تعلیمي پروګرامونه | bildungsarbeit@reachoutberlin.de |
| عمومي پوښتنې | info@reachoutberlin.de |
| پته | Heinrich-Heine-Str. 15<br>10179 Berlin |
| ټیلیفون | 030-69 56 83 39 |
| Website | www.reachoutberlin.de |
| Insta & facebook | reachoutberlin |

ریچ اوټ د اریبا انجمن یو پروژه ده.

| | |
|---|---|
| **د مرستو بانکي حساب** | ARIBA e.V. |
| IBAN | DE69 3702 0500 0003 2448 01 |
| BIC | BFSWDE33XXX |
| Reference | reach out |